مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر درېیمه | ۴۷۳یمه گڼه

# ټاکنیز بحران؛

## د نوماندانو شورا: روان کړکېچ ته په کتو باید د (ملي مشارکت) حکومت جوړ شي




۳

مبهم سیاسي حالت او له نامعلوم راتلونکي وېره
۲ مخ

د بهرنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو بل اړخ
۲ مخ

څلور هغه شیان چې په ژوند کې له پیسو گټلو زیات ارزښت لري
۳ مخ

## څېره

۴ مخ



### دوست شینواری

اروابناد دوست شینواری د پښتو ادب وتلی نثر لیکونکی، شاعر او هغه محقق و چې د پښتو ژبې او ادب لپاره یې د پام وړ ډېر کارونه کړي دي.

## په ننگرهار کې د ۴۹ میلیونو افغانیو په لگښت څیني پروژې گټې اخیستنې ته سپارل شوې



د ننگرهار چارواکو ویلي، د دغه ولایت په مرکز جلال اباد ښار او ځینو ولسوالیو کې د ۴۹ میلیونو افغانیو په لگښت، بېلابېلې پروژې له بشپړېدو وروسته گټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.
د جلال اباد ښاروال روح الامین حسن ویلي، د ښار اړوند اتمې ناحیې په مربوطاتو کې د څه باندې ۳۱ میلیونو افغانیو په لگښت د ویالو، پلچکونو او کوڅو جوړونې پروژې گټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.
هغه ویلي، په یادو پروژو کې د ۲۵ سلنه ولسي ونډې په اخیستو سره څه باندې ۳۱ میلیونه افغانۍ لگښت راغلی، چې د شپږو میاشتو په موده کې یې چارې تر سره شوې دي.
د یو بل خبر له مخې، د ننگرهار د کانال ریاست له لوري د اسیا پراختیایي بانک په اتلسو میلیونو افغانیو مالي لگښت په سره رود، بهسودو، بټي کوټ، غني خېلو او مومندرې ولسوالیو کې د اوبو لگولو ۱۱ فرعي کانالونه له جوړېدو وروسته گټې اخیستنې ته سپارلي دي.

## ولسي جرگه: د تېر کال له دولتي بودیجې میلیاردونه افغانۍ په ناقانونه توگه لگول شوې دي

د ولسي جرگې ځینو غړو ویلي، تېر کال د دولت د بودیجې میلیاردونه افغانۍ په ناقانونه توگه لگول شوې او باید په دې تړاو د اساسي قانون د ۶۹ مې مادې په گډون، قانوني اقدامات په پام کې ونیول شي.
ولسي جرگې تېره ورځ د مالیې وزارت سرپرست او د څېړنې عالي اداري مشر استجواب کړي وو، څو د ۱۳۹۷ کال د قطعیې په اړه معلومات ورکړي، خو پر ځای یې د یادو ادارو نور چارواکي غونډې ته ورغلي وو چې د جرگې له خوا ونه منل شول.
د دې جرگې د مالي او بودیجوي کمېسیون مشر محمدعظیم محسني ویلي چې د ۱۳۹۷ کال د بودیجې د قطعیې حساب له مخې، په ۹۱ کود کې ۱،۳ میلیارده افغانۍ وې، خو دغه کود ته له نورو کودونو پیسې لېږدول شوې او ټولې ۱،۷ میلیارده افغانۍ له دغه کود څخه لگول شوې دي. هغه زیاته کړې، بله ستونزه دا ده چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو په اداره کې د عملیاتي واحد په نوم اداره جوړه شوې او له کله چې جوړه شوې، تر اوسه یې ۲۰ میلیارده افغانۍ مصرف کړې، خو کله چې د څېړنې د عالي اداري کسان د څېړنې په موخه هلته ورشي، له دروازې یې ځوابوي او معلومات نه ورکوي. ده زیاته کړې چې د بودیجې له مخې، باید د کورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو او د ملي امنیت شورا ۳۰۰ میلیونه افغانۍ اوپراتیفي پیسې او د ملي امنیت اداري ۶۰۰ میلیونه افغانۍ لگولې وای، خو د ملي امنیت اداري ۲.۷ میلیارده افغانۍ لگولې دي.
هغه ویلي، د دې پیسو ځینې مالیې وزارت تایید کړې، خو ځینو ته یې بیا ولسمشر په ناقانونه توگه له یو کود څخه بل کود ته د تعدیل حکم ورکړی دی.

## که د ولسمشریزو ټاکنو پر سر را ولاړې شوې ستونزې حل نه شي، کړکېچ به لا پېچلی شي



۳ مخ

## منبع: در تظاهرات ایران ۹ مهاجر افغان نیز کشته شده اند



در تظاهرات بر ضد حکومت ایران ۹ مهاجر افغان کشته شدند و ۱۲۱ تن دیگر از سوی نیروهای امنیتی آن کشور بازداشت گردیدند.
یک منبع خبری به رسانه ها گفته است که در جریان تظاهرات ایران ۹ مهاجر افغان کشته شدند و ۱۲۱ تن دیگر توسط نیروهای امنیتی آن کشور بازداشت گردیدند.
منبع اضافه نموده است: «نمی دانم که چرا افغان ها در تظاهرات ایران کشته شدند چون آنها در هیچ تظاهرات در ایران اشتراک نمی کردند».
از طرف دیگر، گران هیواد سخنگوی وزارت امور خارجه افغانستان دوشنبه هفته گذشته به خبرنگاران گفته است که سفارت افغانستان در ایران، از مقامات ایرانی خواسته است تا در مورد هویت کشته شده گان تظاهرات ایران معلومات بدهد.
او گفت که سفارت افغانستان در ایران در این مورد با مقام های ایرانی در تماس می باشد.
وی اضافه نمود: «پس از این هویت آنها ثابت شود که چه تعداد هستند، در آن صورت در مورد دلیل آن تحقیق خواهند کرد که چرا آنها گرفتار شدند؟چرا زخمی و کشته شده اند».
قابل یاد آوریست که این تظاهرات از چند هفته به این سو به دلیل بلند رفتن نرخ تیل در آن کشور ادامه دارد که در نتیجه آن صد ها تن کشته و زخمی شده اند.

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Shigal English Academy 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### مبهم سیاسي حالت او له نامعلوم راتلونکي وېره

د سیاسي حالت مبهموالی خلک له یو نامعلوم راتلونکي وېروي. له ټاکنو دوې میاشتې تېرې شوې دي، خو لا یې هم پایلې نشته او تمه هم نشته چې پایلې به یې ژر معلومې شي. له بله اړخه دا هم روښانه ده چې پایلې به یې لانجمنې وي، ستونزې به ورسره زیاتې شي او ښایي موږ له یو نامعلوم برخلیک سره مخ کړي. له بله اړخه د سولې په برخه کې هم بدلونونه روښانه نه دي. که څه هم د امریکا او طالبانو تر منځ اړیکې شته او ښایي کومه هوکړه هم وشي، خو لا هم په دې برخه کې شته اندېښنو ته ځواب نه دی ویل شوی.

د افغانستان دا مبهم سیاسي حالت د دې لامل شوی چې خلک له راتلونکي ووېرېږي، ځکه هېڅوک نه پوهېږي چې څه پېښېدونکي دي. زموږ د ټاکنو برخلیک په واضح ډول د سیاسي لوبو او په ځانګړي ډول د بهرنیانو موخو ښکار شوی دی. لومړی خو د ولس د خوښې خلاف ټاکنې وشوې او بیا پکې هر څه د درملوګ په لمن کې واچول شول. اوس هم د ټاکنو پر کمېسیون د سفارتونو او بهرنیانو لوی سیوری دی. له بله اړخه ارګ هم د کمېسیون خپلواکي زندۍ کړې ده چې دغو ټولو چارو موږ ته ټاکنې پر عذاب بدلې کړې دي. ټاکنې د سیاسي واک د لېږد مشروع لاره ده چې په اساسي قانون کې پرې ټینګار شوی دی، خو زموږ ټاکنې نه د اساسي قانون پر اساس وي او نه هم د واک مشروع لېږد ته لاره هواروي. اوس کمېسیون د حکومت پر پلوۍ تورن دی او مخالفین یې د ټاکنو د پایلو له منلو انکار کوي. پرون د هېواد په شمالي ولایتونو کې لاریونونه وو او اټکل دی چې دا لاریونونه به دوام کوي. دا حالت د یوې پراخې سیاسي بې ثباتۍ نښې دي. له بده مرغه له ټاکنیزو لانجو د وتلو کوم څرک هم نه ښکاري. سیاستوال په بې ساري ډول سره وېشلي او حکومت هم له یوه اړخه قانون تر پښو لاندې کوي او بله اړخه یو اړخیز او ډیکتاتورانه چلند کوي چې حالت یې لان خراب کړی دی.

روان مبهم سیاسي حالت د خلکو پر روان منفي اغېز کړی، اقتصادي حالت ورځ تر بلې خرابېږي، ډېری هغه کسان چې له هېواده د وتلو لاره لري، یا وتلي او یا هم وځي، خو حکومت د دې هر څه پر وړاندې بې توپیره دی او داسې چلند کوي، لکه دوی چې د دې خلکو او هېواد پر وړاندې هېڅ ډول مسوولیت نه لري.

له دغه حالته د وتلو لاره دا ده چې حکومت نور خپل چلند بدل کړي. حکومت باید له سیاستوالو سره د ټکر پر ځای، د همکارۍ روحیه خپله کړي. حکومت او سیاستوال دواړه باید داسې کارونه پرېږدي چې زیان یې ولس ته رسیږي. ټاکنیزه لانجه باید ختمه شي. نه دا ټاکنې مشروعیت لري او نه هم د دې ټاکنو ګټونکي ته ولسمشر ویل کېدلی شي. له ټاکنو او ټاکنیزو لانجو تېرېدل او پر سوله تمرکز کولی شي موږ له دغه مبهم حالت څخه وباسي او راتلونکي ته مو هیله من کړي.

# د بهرنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو بل اړخ

لیکوال: داوود محمدي

د «ملي وحدت» حکومت په پیل کې داسې تمه وه چې د نورو دولتي ادارو او سکټورونو تر څنګ به د بهرنیو چارو په وزارت او بهرني سیاست کې هم د پام وړ اصلاحات رامنځ ته شي. د بهرنیو چارو پخواني وزیر، صلاح الدین رباني له پارلمان څخه د باور رایې اخیستو په غونډه کې ژمنه وکړه چې په وزارت کې به لازم اصلاحات راولي. خو ښاغلي رباني نه یوازې دا چې په وزارت کې یې اصلاحات رامنځ ته نه کړل، بلکې د ارګ او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د مستقل کمېسیون له خوا یې د «اصلاحاتو» مخه هم ونیوله.

د ښاغلي رباني له استعفا وروسته، ولسمشر اشرف غني د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین ادریس زمان د سرپرست په توګه وټاکلو او له هغه څخه یې په وزارت کې د پراخو اصلاحاتو غوښتنه وکړه. دا وزارت چې له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د ځانګړې ډلې پر برخه رسېدلی دی، هر ځل یې د اصلاحاتو مخه نیول شوې ده. د ولسمشرۍ ماڼۍ د مرستیال ویاند له قوله، «د وزارت د تشکیلاتو ارزیابي، د ډیپلوماټیکي دستګاه د پرسوب کمول، په استخدام او ترفیعاتو کې د ښایسته سالارۍ اصل ته پاملرنه، د سفارتي او کونسلي چارو د کړنو، مسوولیتونو او لیدلوریو ارزیابي کول، په سفارتونو کې د ارشیف کلتور رامنځ ته کول او په بهر کې د افغانستان د املاکو ساتنه؛ هغه موضوعات دي چې اصلاحات به پکې رامنځ ته شي».

په دې لیکنه کې د بهرني سیاست او افغانې ډیپلوماسۍ هغو موضوعاتو ته اشاره شوې ده، چې اصلاحات پکې اړین او د ارګ له خوا په وړاندیز شویو اصلاحاتو کې ورته پام نه دی شوی. د ارګ له خوا وړاندیز شوي اصلاحات اړین؛ خو بشپړ نه دي. د افغانستان په ډیپلوماټیکو اړیکو کې تعادل، د بهرني سیاست اصلاح، د ډیپلوماټانو روزنه او د ډیپلوماټیکي دستګاه او علمي او تحقیقي مرکزونو تر منځ د همکاریو رامنځ ته کولو په اړه، د اصلاحاتو په پروپوزل کې څه نه دي لیکل شوي.

افغانستان د «ډیپلوماټیکو مطالعاتو» له مخې، د وړو هېوادونو په کتار کې راځي. هغه هېوادونه چې نفوس یې لږ، جغرافیه یې کمه او نسبتي قدرت، سیاسي، اقتصادي او نظامي هغه یې کم وي، وړوکي هېوادونه بلل کیږي. د همدې تعریف د نسبتي قدرت د اصل پر اساس، افغانستان د نړۍ وړوکی، خو د نفوسو او جغرافیې له مخې منځنی هېواد بلل کیږي.

د نړیوالو اړیکو او ډیپلوماټیکو مطالعاتو د اصولو له مخې، واړه هېوادونه؛ په نړیواله انارشۍ کې، د هېواد بقا، داخلي ثبات، اقتصادي پرمختګ، د سیاسي قلمرو دفاع او ارضي تمامیت خپل لومړیتوبونه ټاکي. د همدې لومړیتوبونو پر اساس واړه هېوادونه، په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب اخلي، د سترو قدرتونو په ائتلافونو کې ګډون کوي او زیاتره وخت د بې پلویتوب سیاست او په ډیپلوماټیکو اړیکو کې د سترو قدرتونو تر منځ «تعادل» رامنځ ته کوي. په بهرني سیاست کې د سیاسي، نظامي او اقتصادي مرستو تر لاسه کولو لپاره له زبر ځواک هېواد سره اړیکې ساتل بد کار نه دی؛ خو باید له نورو سترو ځواکونو او سیمه ییزو هېوادونو او ګاونډیانو سره دې هم په اړیکو کې تعادل رامنځ ته شي.

له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې چې د نړۍ له زیاترو هېوادونو سره د افغانستان سفارتي اړیکې بېرته پیل شوې دي، ټولو هېوادونو د افغانستان په ثبات او بیارغاونه کې همکاري کړې ده. په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د نړیوالو ځواکونو شتون، د سیمې د ځینو هېوادونو لکه چین، روسیې او ایران اندېښنې زیاتې کړې دي، خو دوی بیا هم له کابل سره ډیپلوماټیکي اړیکې ټینګې وپاللې. ستونزه هغه مهال رامنځ ته شوه چې په بهرني سیاست کې افغان حکومت، پر متحده ایالاتو زیاته تکیه وکړه او په ډیپلوماټیکو اړیکو کې یې تعادل ونشو ساتلی. په ډیپلوماټیکو اړیکو کې د همداسې نامتعادل حالت دوام، نه یوازې د افغانستان د بهرني سیاست استقلالیت مشکوک کړ، بلکې یاد هېوادونه یې خوابدي او پر متبادلو لارو غور کولو باندې مجبور شول، چې په پایله کې یې له طالبانو سره د یو مشروع ځواک په توګه اړیکې ورغولې او هم یې د افغانستان حکومت د مشروعیت د چیلنجولو تر څنګ، د سولې په خبرو کې د حکومت د منزوي کولو لپاره هم متې را بډ وهلې.

که څه هم سږ کال په بهرني سیاست کې د خپلواکۍ سلمه کلیزه پوره شوه، خو په حقیقت کې د سردار داوود خان له جمهوریت راپدېخوا، د افغانستان د بهرني سیاست استقلالیت د سړې جګړې او د نړیوالو او سیمه ییزو قدرتونو د سیالیو قرباني شوی دی. په ډیپلوماټیکو مانورونو کې د پراګماتیکې او معاملګرې (Transactional) ډیپلوماسۍ د نوو بڼو رامنځ ته کېدل، کلاسیکې ډیپلوماسۍ ته چیلنجونه رامخې ته کړل. د دې ډیپلوماسۍ له مخې، حتی مخالف هېوادونه هم د راکړې ورکړې پر اساس ډیپلوماټیکې اړیکې رغوي، ائتلافونه ماتوي، نوي جوړوي، او حتی ستراتیژیکې همکارۍ او تړونونه هم له نظره غورځوي. دا چې له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې امریکا د نړۍ په نورو لانجو کې ښکېله شوه، افغان جګړه اوږده شوه او د ولسمشر ټرمپ له جګړو څخه د لمنې راټولولو او پر کورني اصلاحاتو ټاکیدې سیاست، هغه عوامل دي چې پر امریکا د افغانستان د تکیې سیاست یې ولړزولو. افغانستان چې ډیپلوماټیکه دستګاه یې له خلا او له بې ظرفیته کسانو ډکه ده، اوس هم د کلاسیکې ډیپلوماسۍ تقلید کوي او د معامله ګرې ډیپلوماسۍ قرباني دی.

د سولې په روان بهیر او حساس سیاسي حالت کې د افغان حکومت منزوي کېدل، د افغاني ډیپلوماسۍ او بهرني سیاست د ناکامۍ نښې بلل کیږي. په ډیپلوماټیکو اړیکو کې عدم توازن او په ډیپلوماټانو کې د دې ظرفیت نشتون چې د هېوادونو تر منځ د همکاریو ګډ ټکي دې پیدا او هم دې د افغانستان په اړه د کوربه هېوادونو تګلارې د هېواد په ګټه وڅرخوي، د افغان حکومت د منزوي کېدلو لاملونه دي. له داسې وضعیته د وتلو لاره په بهرني سیاست او ډیپلوماټیکو مانورونو کې د نړۍ او سیمې له حالاتو سره سم اصلاحات او انعطاف پکار دی.

تر ټولو اساسي ستونزه دا ده چې تر اوسه پورې د «افغانستان د بهرني سیاست اصول» لا هم نه دي تعین شوي. همدا لامل دی چې بهرنی سیاست مو د ملي ګټو او ملي لومړیتوبونو پر ځای، فرد-محوره او د ولسمشر د ویناوو او سلیقې مطابق عیارېږي. د ۲۰۱۴ ز کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د محمد اشرف غني په ټاکنیز منشور کې د افغانستان بهرنی سیاست پر «پنځو» حوزو ګاونډیو هېوادونو؛ اسلامي نړۍ؛ اروپا، د امریکا متحده ایالاتو، کاناډا او جاپان؛ اسیایي هېوادونو او نړیوالو سازمانونو باندې وېشل شوی و. خو په دې منشور کې بیا هم د بهرني سیاست دکتورین نه دي مشخص شوي. د بهرني سیاست دکتورین هغه اصول دي چې په وسیله یې هېوادونه ځانګړې اهداف او ملي ګټې تر لاسه کوي. ممکن د هېوادونو ګټې او موخې بدلې شي، خو دا اصول د وخت په تېرېدو سره نه بدلیږي؛ خو له حالاتو سره عیارېږي. د بهرني سیاست دکتورین، د ډیپلوماټیکې دستګاه «لارښود» بلل کیږي چې د نشتون له وجې یې افغان ډیپلوماټان د شخصي سلیقې او یا د حکومت د راس په خوښه ډیپلوماټیک مانورونه تر سره کوي.

د نړیوال سیاست په بدلېدونکي او غیر یقیني وضعیت کې هېوادونه، د لومړۍ تګلارې له ناکامېدو سره سمې نورې له وخته وړاندې جوړې شوې تګلارې کاروي. که د افغانستان د بهرني سیاست د تګلارو جوړوونکو ظرفیت درلودلی، دوی به د ناڅاپي بدلونونو له منفي تاثیراتو څخه د بچ کېدو او له بندبسته د وتلو حللارو لپاره متبادلې تګلارې جوړې کړې وای، خو متأسفانه چې داسې ونشول.

د ملي ګټو، سترو تهدیدونو، د ستراتیژیکو اړیکو د اساساتو او له هېوادونو سره د اړیکو جوړولو او ورانولو اصولو په اړه د ځانګړې ټول منلي تعریف نشتون بل مشکل دی، چې په بهرني سیاست کې د افغانستان د لاسته راوړنو مخه یې نیولې ده. داسې ټول منلي تعریف ته اړتیا شته چې نه یوازې د حکومت، بلکې د اپوزېسیون او ولس لیدلوری او غوښتنې هم پکې منعکسې شي. ټولنیزو، سیاسي او مذهبي بندیزونو Straitjacket د افغانستان د ډیپلوماټیکو اړیکو د پراختیا او د بریالي بهرني سیاست مخه نیولې ده. د همدې بندیزونو او حساسیتونو پر اساس، افغانستان د نړۍ له مهمو هېوادونو سره ډیپلوماټیکې اړیکې نه شي رامنځ ته کولای. همدا اوس د افغانستان بهرنی سیاست او ډیپلوماټیکې اړیکې د سیمې او نړۍ د ځینو هېوادونو پر خوښه، نه د ملي ګټو او لومړیتوبونو پر اساس، پر مخ ځي. همدې بندیزونو نه یوازې د افغاني ډیپلوماسۍ د کړنو ساحه محدوده کړې ده، بلکې د ځینو فرصتونو او موخو تر لاسه کولو مخه یې هم نیولې ده. افغان حکومت ته پکار دي چې ډیپلوماټیکه دستګاه له داسې بندیزونو راوباسي او د ملي ګټو او موخو تر لاسه کولو لپاره د اپورچونېزم، لیبرالېزم، ریالېزم او پراګماتېزم له بېلابېلو روشونو څخه کار واخلي. له هېوادونو سره په ډیپلوماټیکو اړیکو کې، افغان دولت باید د ګټې او تاوان د ریاضیکي محاسبې پر اساس د بهرني سیاست تګلارې او ډیپلوماټیکې اړیکې جوړې کړي.

کورنۍ جګړې، د طالبانو رژیم او د بهرنیانو شتون، افغاني ډیپلوماسي کاواکه، بې مسلکه او په نړۍ کې بې اعتباره کړه. د افغانستان ډیپلوماټیکه دستګاه؛ د ظرفیتونو نشتون له امله نه شي کولای چې چیلنجونه پر فرصتونو بدل او په نړیوالو سیاسي بدلونونو او رقابتونو کې د افغانستان ګټې خوندي کړي. د افغانستان ډیپلوماسي د وخت له غوښتنو او نړیوالو ستنډرډونو سره اصلاح کولو ته اشد ضرورت لري. د افغان ډیپلوماټ داسې روزل پکار دي چې په بهر کې د افغانستان د ګټو، ملي سیاستونو، دریځونو او نظام دفاع وکړي او هم د هېوادونو او سازمانونو تر منځ د همکاریو رامنځ ته کولو ته زمینه برابره کړي.

اوسنۍ افغانه ډیپلوماسي غیر فعاله او عکس العملي ده چې له پېښې وروسته غبرګون ښیي، خو له پېښې وړاندې دریځ وړاندې کولو، وړاندوینې او تحلیل ظرفیت نه لري. دا چې افغانستان د سیمه ییزو، فراملي او نړیوالو سازمانونو او ائتلافونو غړی دی، له هېواد څخه د باندې هر پېښه او بدلون د افغانستان داخلي سیاست او ثبات ګواښلی شي. اوسمهال د بهرنیو چارو وزارت په تشکیل کې د نړۍ پنځو حوزو د مطالعاتو، تحلیل او تحقیق لپاره سیاسي څانګې فعالیت کوي، خو دا کفایت نه کوي، پکار ده چې د هغو هېوادونو لپاره چې افغانستان ورسره ستراتیژیکې اړیکې لري، ځانګړې څانګې او د وزارت تر چتر لاندې تحقیقاتي مرکزونه او تینک ټانکونه رامنځ ته شي. ځوان ډیپلوماټان به لږ تر لږه د دریو کلونو لپاره په همدې سیاسي څانګو او مرکزونو کې له کاري تجربې حاصلولو وروسته، اړوندو هېوادونو او حوزو ته د ډیپلوماټیکې ماموریت لپاره استول کیږي. دا تحلیلي او تحقیقي مرکزونه به د هېوادونو او سازمانونو اړوند، د افغانستان د بهرني سیاست تګلارې جوړوونکو ته وړاندیزونه، مشورې، تحلیلونه او راپورونه تولیدوي او هم به ځوان ډیپلوماټان روزي.

یاد وزارت دې د نړیوالو اړیکو او بهرني سیاست اړوند، له افغان تحقیقي او علمي مرکزونو سره همکاري رامنځ ته کړي. دا مرکزونه د افغانستان بهرنی سیاست او د سیمې وضعیت د افغاني لیدلوري له مخې څېړي او بحثونه رامنځ ته کوي. د ډیپلوماسۍ د پوهانو او تجربه کارو ډیپلوماټانو (Academia and Practitioners) تر منځ تیوریکي او تجربوي بحثونه رامنځ ته کول، ګټور تحلیلونه او لیدلوري تولیدوي چې د بهرني سیاست په غني کولو کې ترې ګټه اخیستلی‌شو.

دغه وزارت دې د ډیپلوماټانو او کونسلي کارکوونکو د استخدام په اړه ځانګړی قانون او د بشري سرچینو د مدیریت ځانګړی لارښود ولري، که سم او په بې پرې توګه پلې شي، وزارت به وړ استعدادونه تر لاسه کړي. خو دا قانون د ملکي خدماتو د کارکوونکو له قانون سره ټکر لري او ډېر کله وزارت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسیون د «اصلاحاتو» مخه ځکه نیوله، چې دوی ځان له دې قانون څخه مبرا بللو. د دواړو قوانینو تر منځ دا ټکر او ابهام ختمولو ته ضرورت لري.

د بهرنیو چارو وزارت، د ځوانو ډیپلوماټانو د روزلو لپاره د «ډیپلوماسۍ انسټیټیوټ» هم لري، چې تر فراغت وروسته یې محصل د ډیپلوماټیک ماموریت وړ بلل کیږي. مطلق اکثریت افغان ډیپلوماټانو نه یوازې په دې انسټیټیوټ کې روزنه نه ده تر لاسه کړې، بلکې د کوربه هېواد پر رسمي او نړیواله ژبه هم نه پوهیږي. د وزارت په روانو اصلاحاتو کې له ډیپلوماټانو او کونسلي مامورینو څخه د انګلیسي ژبې د معیاري ازموینو IELTS, TOFEL اخیستلو خبره هم کیږي؛ خو زما په اند، یوازې د انګلیسي ژبې د زده کړې معیاري ټاکل کفایت نه کوي، بلکې په هغه هېواد کې چې ډیپلوماټ ماموریت ته استول کیږي، باید د هغوی له داخلي سیاست، اقتصادي وضعیت، کلتور، ژبې، جغرافیې او ټولنې سره بلد او د معلوماتو راغونډولو او له تحلیله وروسته، وطن ته د لېږلو ظرفیت هم ولري.

دولتونه د کلاسیکې Track ۱,۰۰ ډیپلوماسۍ تر څنګ، د کلتوري او عامه ډیپلوماسۍ Track ۱,۵، Track ۲,۰۰ and Track ۳,۰۰ میتودونه هم د نرم ځواک Soft Power د آلې په توګه استعمالوي. ډیپلوماټانو ته داسې روزنه پکار ده چې د لابیګرۍ او مذاکرې پر هنر سمبال، د بهرني سیاست او ډیپلوماټیکو ادابو او تشریفاتو باندې خبر او د سیمې او نړۍ د وضعیت د تحلیل ظرفیت ولري.

که څه هم افغان حکومت اوس د ډیپلوماټیک پرسوب د کمولو لپاره متې رانغښتې دي، خو پکار دا ده چې د ډیپلوماسۍ دستګاه مسلکي کړي او هم له هغو هېوادونو سره چې ډیپلوماټیکې اړیکې نشته، د غیرمسکوني سفیرانو Non-Residential Ambassadors په مرسته دې اړیکې رامنځ ته او وپالل شي. که څه هم د نړۍ په هر هېواد کې ځینې سفارتونه د سیاسي رشوت په توګه، د ټاکنیز کمپاین غړو ته ورکول کیږي، خو په بهر کې د افغانستان سفارتونه مطلق اکثریت له غیرمسلکي سفیرانو ډک دي. پکار ده چې سفارتونو ته د سفیرانو په لېږلو کې سطحي چلند ونه شي او د سفیر په توګه د مسلکي ډیپلوماټانو استخدام زیات شي.

د نړۍ ځینې هېوادونه د ځانګړي تاریخ او جیوستراتیژیکي موقعیت پر اساس، بهرنۍ سیاست داسې عیاروي چې زیات تمرکز یې پر همغه نکتې باندې وي. ناروې او قطر هغه هېوادونه دي چې له نورو هېوادونو سره په کومه ستونزه او لانجه کې ښکېل نه دي، نو پر همدې اساس، دواړه دولتونه د سولې-محوره بهرنی سیاست لري چې د هېوادونو تر منځ د جګړو او کورنیو شخړو د حل لپاره مداخله او درېیمګړیتوب کوي. جاپان او کاناډا، انسان-محوره بهرنی سیاست لري چې په بشري پرمختګ او مرستو کې د نړۍ تر نورو هېوادونو زیاته همکاري کوي. د ولسمشر اشرف غني بهرنی سیاست اقتصاد محوره دی. د افغانستان جیوستراتیژیک موقعیت، مرکزي آسیا له سهیلي، ختیځه آسیا له لوېدیځې، منځنی ختیځ او اروپا سره نښلولای شي. د افغانستان د اتصال او اقتصاد-محوره بهرنی سیاست، نه یوازې د افغانستان او سیمې د اقتصادي ثبات لامل کېدای شي، بلکې د سیمه ییزې اتکا، سیاسي ثبات، ازاد تجارت او د خلکو د سوداګریزو اموالو ازاد تګ راتګ ته هم لاره هوارولی شي.

په بهرنیو چارو وزارت او په بهر کې د افغانستان په سفارتونو او کونسلګریو کې د بشري قوې او تشکیلاتو د اصلاحاتو تر څنګ، د هېواد بهرنی سیاست هم سختو اصلاحاتو ته اړتیا لري.

# ټاکنیز بحران؛

## د نوماندانو شورا: روان کړکېچ ته په کتو باید د (ملي مشارکت) حکومت جوړ شي




د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان وايي، دوی د یوه داسې ګډ حکومت غوښتونکي دي چې د ټولو نوماندانو له مشارکت څخه جوړ شوی وي. د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا تېره ورځ په یوه خبري غونډه کې د (ملي مشارکت) حکومت طرحه وړاندې کړه. دوی وايي، دمګړۍ یوازې یو کس ټول حکومت چلوي او داسې فکر کوي چې ټولې وړتیاوې لري، نو د ټولو نوماندانو وړتیاوې دې یو ځای په یوه حکومت کې راټولې کړل شي. حکومت بیا د نوماندانو شورا پر دغه طرحه غبرګون ښودلی دی او هغه یې له قانون سره په ټکر کې بللې ده. څه باندې دوه میاشتې کېږي چې ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوې، خو تر دې دمه د دغو ټاکنو پایلې نه دي اعلان شوې. د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان کمېسیون د یوه ځانګړي نوماند په پلویتوب تورنوي او وايي، اوس د دې تمه نه لري چې کمېسیون دې بې طرفانه پرېکړه وکړي شي. د نوماندانو شورا پرون په یوه خبري غونډه کې وویل، دا چې حق حقدار ته نه رسېږي، د خلکو رایې لکه څنګه چې باید درناوی ورته شوی وی، داسې نه ګڼل کېږي؛ نو دوی اړ شوي چې یوه نوې طرحه وړاندې کړي. د یادې شورا د غړو په خبره، دا د یوه ګډ حکومت طرحه ده چې ټول نوماندان به یې ګډونوال وي. دوی وايي، دغه ډول حکومت به د ټاکنیز محور له روحیې سره سم پراخ بنسټه، د ټولو لوریو او ټولنیزو او سیاسي واقعیتونو د عادلانه او متوازن ګډون په اساس رامنځ ته شي.

له ولسمشر غني، ډاکټر عبدالله عبدالله او ګلبدین حکمتیار پرته نور ټول نوماندان د ملي مشارکت حکومت ملاتړ کوي او دغه طرحه یې وړاندې کړې ده. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند احمد ولي مسعود په دغه خبري غونډه کې وویل، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د یوه ځانګړي نوماند ملاتړ کوي، نو ځکه د شفافو او عادلانه پایلو اعلان ناشونی کار دی. هغه وايي: ((کمېسیون د یوه ځانګړي شخص لپاره کار کوي. زه د دې پلوی هم نه یم چې ټاکنې دې دویم پړاو ته لاړې شي)).

د ولسمشریزو ټاکنو بل نوماند شهاب حکیمي بیا ولسمشر غني پر انحصار تورنوي او وايي، یو کس فکر کوي چې په دې هېواد کې د هر کار توان لري، نو ځکه نورو ته په حکومت کې ځای نه ورکوي. هغه وايي: ((یو کس په حکومت کې ځان ټینګ کړی چې زه ټولې وړتیاوې لرم، خو د نورو نوماندانو وړتیاوې باید یوځای شي)).

د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان دا هم وايي چې په هېواد کې ناوړه سیاسي وضعیت، خراب امنیت، سولې ته د خلکو اړتیا او تقاضا د دې غوښتنه کوي، چې ټول نوماندان یو ځای سره راټول شي او اوسني بحران ته د پای ټکی کېږدي.

بلخوا ولسمشرۍ ماڼۍ بیا د نوماندانو شورا پر دغو څرګندونو او طرحه غبرګون ښودلی دی. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي وايي چې نوماندان ناکام شوي دي او دا په دې مانا ده چې ولس یې نه غواړي. د ده په خبره، افغانانو د ولسواکۍ لپاره مبارزه کړې ده، نو اوس د دې وخت نه دی چې په تېرو مصلحتي لارو پسې لاړ شو. صدیقي وايي: ((د افغانستان خلکو په تېرو ۱۸ کلونو کې د جمهوریت تر لاسه کولو لپاره ګڼې قربانۍ ورکړې او د دې پر ضد مسایل مطرح کول زوړ فکر ښيي)).

صدیقي د نوماندانو غوښتنې غیر قانوني بللې دي او په خبره یې، دغه ډول غوښتنو ته هېڅ دول توجیه نه شي جوړېدلی. هغه پر نوماندانو غږ کړی چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون پرېکړې ته په تمه شي او له دغه ډول غیر قانوني غوښتنو ډډه وکړي.

بلخوا د هېواد په ځینو په تېره په شمالي ولایتونو کې لا هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون د کړنو په غبرګون کې لاریونونه او اعتراضونه دوام لري. اعتراض کوونکو په کابل او نورو ولایتونو کې د ټاکنو پر خپلواک کمېسیون غږ کړی چې د خلکو رایو ته درناوی وکړي او غیر قانوني رایې باطلې اعلان کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر اوسه پر وروستیو مسایلو غبرګون نه دی ښودلی؛ خو تر دې وړاندې یې ویلي چې ډېر ژر به د لومړنیو پایلو د اعلان په تړاو خپله پرېکړه اعلان کړي.

## <u>څارونکي بنسټونه:</u> که د ولسمشریزو ټاکنو پر سر را ولاړې شوې ستونزې حل نه شي، کړکېچ به لا پېچلی شي

پر ټاکنو څارونکو بنسټونو ویلي، که د ولسمشریزو ټاکنو په برخه کې راولاړې شوې ستونزې ژر حل نه شي، کړکېچ به لا پېچلی شي.

د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید ویلي، که د هغو اوو ولایتونو ستونزه چې پکې د رایو د بیاشمېرنې بهیر نه دی تر سره شوی، هواره نه شي، د روان ټاکنیز کړکېچ حلېدل به ستونزمن وي.

هغه ویلي: «که هره ورځ مظاهرې وي او هره ورځ د کمېسیون د دفترونو پر تړلو ټینګار وي او که له پاتې اوو ولایتونو پرته لومړنۍ پایلې اعلان شي او پر وړاندې یې غبرګونونه وي، نو دا وروسته په انتخاباتو کې د کړکېچ لړۍ پخوي. هغه وخت به یې حلېدل سخت وي. نو کمېسیون باید ژر تر ژره د پاتې اوو ولایتونو په اړه روښانه دریځ غوره کړي».

رشید زیاته کړې، دوی څو ځلې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د پرانیستې ناستې وړاندیز کړی،



چې ټاکنیزو ټکټونو ته پکې قناعت ورکړل شي، خو هغه ویلي چې کمېسیون دا وړاندیز نه دی منلی او دوی ته په دې اړه د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون چوپتیا هم د پوښتنې وړ ده.

په ورته وخت کې د افغانستان د شفافو ټاکنو بنسټ یا ټیفا اجرایوي مشر نعیم ایوب زاده هم ویلي چې کمېسیون نامسلکي چلند کوي چې د ټاکنو پروسې ته به زیان ورسوي.

هغه ویلي: «زه فکر کوم چې اوسنی حالت د اندېښنې وړ دی او پروسه به له ګواښ سره مخ کړي. له دې امله هغه پایلې چې اعلانېږي هم، د منلو به نه وي. دویم دا چې د انتخاباتو کمېسیون غیر مسلکي چلند کوي».

دا په داسې حال کې ده چې لا هم د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې پلویانو په اوو ولایتونو کې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ولایتي دفترونه تړلي او د رایو بیاشمېرنې ته اجازه نه ورکوي.

یاده ډله له ټاکنو کمېسیون د ۳۰۰ زرو رایو د باطلېدو غوښتنه کوي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا ویلي چې دغه رایې د باور وړ دي.

دا په داسې حال کې ده چې پر ټاکنو د څار بهرني بنسټونه پر دغو ستونزو غلي دي او څه نه وايي.

د یادونې ده چې ټاکل شوې وه د تېرې یکشنبې تر پایه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشا له لوري د کمېسیون رهبرۍ ته په ۲۷ ولایتونو کې د شمېرل شویو رایو پایلو په اړه راپور ورکړل شي، خو لا هم دا راپور دوی ته نه دی سپارل شوی.


## د بلخ- اروپا تر منځ د هوايي دهلېز صادرات د ستونزو له کبله په ټپه درېدلي دي

د بلخ – اروپا هوايي دهلېز نږدې یو کال وړاندې د افغانستان د سوداګریزو توکو د صادرولو په موخه پرانیستل شو، خو اوس یې فعالیت په ټپه درېدلی دی او هېڅ صادرات ترې نه کېږي.

په شمال کې د سوداګرۍ او صنایعو خونې مسوولینو ویلي، دغه هوايي دهلېز د مولانا جلال الدین بلخي نړیوال هوايي ډګر او د مرکز کابل تر منځ د تخنیکي ستونزو د رامنځ ته کېدو له کبله غیر فعال شوی دی.

د دغې خونې رییس آرش یونسي ویلي چې د صادراتي توکو پر لېږد د لوړې تعرفې وضع کېدل هم یو له هغو عواملو څخه بلل کېږي، چې له امله یې دغه دهلېز تړلی دی.

هغه زیاته کړې: «د بلخ هوايي ډګر او د افغانستان د هوايي چلند اداري تر منځ ستونزې د دې لامل شوې، څو د هوايي دهلېز له لارې د توکو لېږد بند شي. تر دې دمه یوازې ۲۰ ټنه سوداګریز توکي لکه وچه مېوه، غالۍ او نور توکي د هوايي دهلېز له لارې لېږدول شوي، خو اوس هېڅ




صادرات نه لرو».

خو په ورته وخت کې د مزارشریف هوايي ډګر چارواکي د دغې ادارې او د مرکزي دولت تر منځ د تخنیکي ستونزو شتون نه تاییدوي.

سره له دې چې په شمال کې د سوداګرۍ او صنایعو خونې چارواکي د بلخ – اروپا هوايي دهلېز له لارې صادراتو ته د دولت پر نه پاملرنې نیوکه کوي، خو د بلخ د سوداګرۍ او صنعت ریاست ویلي چې افغاني صادراتو ته د بهرني بازار نشتون او د افغانستان د صادراتي توکو د کیفیت ټیټوالی د دې لامل شوی چې دغه هوايي دهلېز غیر فعال شي.

د بلخ د سوداګرۍ او صنعت رییس شیر احمد سپاهي زاده ویلي، که افغان سوداګر د نړیوال بازار د اړتیاوو پر اساس کیفیت لرونکي توکي تولید کړي او هم د کورنیو تولیداتو کچه لوړه کړي، دغه اداره به د بلخ – اروپا هوايي دهلېز له لارې د بیا ځل صادراتو زمینه برابره کړي.

هغه زیاته کړې: «زموږ اساسي ستونزه د افغانستان توکو ته د بهرني مارکېټ نشتوالی دی. د افغانستان سوداګریز توکي باید له نړیوالو معیارونو سره برابر صادر شي. هغه نورم او سټنډرډ چې نړیوال بازار کې ورته اړتیا ده، زموږ سوداګر باید هغو معیارونو ته ځان برابر کړي، هغه وخت بیا د مولانا هوايي ډګر یې په خدمت کې دی».

د یادونې ده چې د بلخ – اروپا هوايي دهلېز تېر کال د مرغومې (جدي) په ۱۹مه د افغانستان او اروپايي هېوادونو تر منځ د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه په بلخ ولایت کې د افغان چارواکو او ترکي ډیپلوماټانو له خوا پرانیستل شو، خو د یوه کال له پوره کېدو مخکې غیر فعاله شوی.

## <u>سپینه ماڼۍ:</u> ولسمشر ټرمپ د استازو جرګې د سبا ورځې په غونډه کې برخه نه اخلي

سپینې ماڼۍ ویلي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د هغه مدافع وکیلان دا اونۍ د ډیموکراټانو له کنټروله برخمنې د استازیو جرګې په یوې استماعیه غونډه کې برخه نه اخلي.

د سپینې ماڼۍ حقوقي سلاکار یا کنسول پاسکال پت سېپولوني د استازیو جرګې قضایه کمېټې ته په یوه لیک کې د ټرمپ استیضاح کوونکې ډله په دې پلټنو کې د قانوني مراحلو په نه بشپړولو او د پوره انصاف پر نه لرلو تورنه کړې ده.

د یادونې ده چې قضايي کمېټه د استیضاح لپاره د شته تورونو پر څېړلو ګومارل شوې ده.

د ټرمپ د استیضاح په اړه د سپیناویو یا استماعیه علني غونډه داسې وخت د ډسمبر له څلورمې پیلېږي چې د استازیو جرګې د استخباراتو کمېټې د بندو دروازو تر شا د سپیناویو او مرکو دوې اونیزې غونډې تېره اونۍ پای ته ورسولې.

د سپینې ماڼۍ حقوقي سلاکار د کانګرېس د استازیو جرګې په یوه استماعیه غونډه کې د ګډون د بلنلیک په ځواب کې لیکلي، چې قضایه کمېټې دوی ته د تیارۍ په خاطر کافي وخت نه دی ورکړی او هم یې د شاهدانو په اړه معلومات نه دي ورسره شریک کړي.

هغه دغه راز ویلي چې سپینه ماڼۍ به دویمې جوړېدونکې غونډې ته ځواب وايي چې د سېپولوني په خبره، تر اوسه یې نېټه نه ده مشخصه شوې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د استازو جرګې ډیموکراټ پلوه مشرې نانسي پلوسي د سپټمبر په ۲۴مه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د استیضاح لپاره د څېړنو امر ورکړ.

د استازو جرګې د دریو کمېټو له خوا د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د استیضاح په اړه څېړنې د ټرمپ او د اوکراین د ولسمشر ولادیمیر زیلېنسکي د جولای د میاشتې پر یوه ټیلیفوني مکالمه څرخېږي.

دا څېړل کېږي چې ټرمپ خو به له خپل قدرته په استفادې د اوکراین پر ولسمشر فشار نه وي راوړی چې د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو د یوه ډیموکراټ کاندید جو بایډن او د هغه د زوی هنټر بایډن په اړه څېړنې وکړي.

خو د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د څېړنو له پیله هر ډول تورونه رد کړي دي.

وروسته له هغې چې ټرمپ د استیضاح څېړنې هر وار په خپلو ویناوو کې ناسمې بللې او تورونه یې رد کړي، د استازو جرګې د قضایه کمېټې مشر جېرولډ ناډلر تېره اونۍ هغه ته په یوه لیک کې لیکلي، چې یا دې د سپیناوي په غونډو کې برخه واخلي او یا دې د رواني پروسې په اړه له شکایتونو لاس پر سر شي.

دا به د استازیو جرګې په دریو ډلګیو پورې تړلې وي چې ایا د یوې عمومي استیضاح په اړه رای ګیري غواړي که څنګه. که د استازیو جرګه استیضاح ته رایه ورکړي، د محاکمې بهیر به په سنا جرګه کې وشي.

## د کتـــاب خبـــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

درېیمه برخه

افغانستان

**نهم څپرکی**

**په لویه پکتیا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل**




د پاکستان وېره دا وه چې د لویې پکتیا خلک له پاکستان مېشتو پښتنو سره اړیکې لري، ځکه یې د کمونېستي رژیم پر ضد له همدې ځایه د جګړې ملاتړ کاوه. له لویې پکتیا سره پر پوله یې، د کورمې او وزیرستان په قبایلي سیمو کې د هغوی لپاره د جګړې روزن ځایونه او نظامي کمپونه جوړ کړل. له شورویانو سره په څه باندې یوه لسیزه جګړه کې تر ټولو لویې نښتې په لویه پکتیا کې وشوې.

د ۱۹۸۷ز کال په وروستیو کې شوروي ځواکونو د جنرال بوریس ګروموف پر مشرۍ له پکتیا سره د ګردېز او خوست د لارو د پاکولو لپاره سخته جګړه وکړه. پولې ته نږدې د خوست ښارګوټی چې خلکو به وړوکی مسکو هم ورته وایه، له کلونو د مجاهدینو تر سختې کلابندۍ لاندې و. سور پوځ اړ شو، له هوایي ځواک او ټانګونو کار واخلي. په پای کې افغان او روسي ځواکونه په ګډه و توانېدل، د سټو کنډو په نیولو سره د خوست کلابندي ماته کړي.

له دې بریا سره ګروموف د خپل هېواد د پوځ تر ټولو لوړ انعام ترلاسه کړ. له دې انعام سره نوموړی د پخواني شوروي اتحاد اتل اعلان شو. له مجاهدینو سره جګړه کې د والري وسټوروټین تر څنګ نورو روسي سرتېرو هم انعامونه اخیستي وو.

د کمونېستانو د حکومت یوه کارکوونکي، امیرشاه کارګر ټولې یادې بدې ورځې په خپلو سترګو کتلې دي. د ۱۹۸۰ز لسیزې په پای کې ولسمشر نجیب الله نوموړي ته امر وکړ خوست ته لاړ شي هلته د سولې د مذاکراتو په اړه فعالیت وکړي. د جینیوا د تړونونو پر بنسټ له ۱۹۸۸ز کال وروسته روسان له افغانستان ووتل، کارګر په خپل پلرني ټاټوبي خوست کې د روسانو له وتلو وروسته له یوې خوا د مرستو بهیر ټکنی و ارزاوه او بل لور یې ولیدل چې په سنګر کې د ناستو افغان سرتېرو د جګړې مورال د مجاهدینو پر وړاندې کمزوری شوی و. واشنګټن او اسلاماباد لا هم مجاهدینو ته د جګړې لپاره وسلې ورکولې. کارګر ولیدل چې څنګه د خوست په کلابندۍ کې په زرګونو سرتېرو ته مرګ ژوبله اوښتې وه. په دې سیمه کې ډېره جګړه خپله د دې سېمو پوځي افسرانو او ملېشو پر مخ وړه. کارګر وایي چې ده په خپله هم، سرتېري له اسلامي دودیز کفن پرته خاورو ته سپارلي وو. ځینې وختونه خو ان په میاشتو د دېګ لپاره مالګه هم نه پیدا کېده. د کارګر په وینا، ځایي پوځي افسران د ۱۹۹۱ز کال په مارچ کې له سختو جګړو وروسته پوه شول چې جګړه نشي ګټلای، ځکه نو مجاهدینو ته تسلیم شول. د نورو افغان کمونېستانو په څېر کارګر هم ویښ و چې ولې یې د سوسیالېستي نظام د پلي کېدو خوب تر پایه رښتیا نه شو.

کارګر په ۲۰۱۱ز کال، په خوست کې د یوې مرکې پر مهال ووېل: ((د غوايي (ثور) پر اوومه چې څه پېښ شول، هغه یو انقلاب نه بلکې یوه کودتا وه. دا ډول کودتاګانې هېڅکله د انقلاب اصل هدف ته نشي رسېدی. موږ د یوې ایډیولوژۍ تر اغېزې لاندې راغلي وو، ځکه مو خپلې کودتا ته د انقلاب نوم ورکړ. موږ له کودتا وروسته خپل رژیم ته په تېروتنه کې انقلابي موخې وټاکلې. د ډېری خلقیانو او پرچمیانو پر هغو ایډیولوژیو سر نه خلاصېده چې غوښتل یې د اتحاد پر بنسټ یې د ثور له کودتا وروسته په خپله خاوره کې عملي کړي. د دې ډول نظریو پلي کېدل زموږ د ټولنې لپاره ډېر لوړ بیه تمام شول. موږ د پوځي زورواکۍ لپاره زمینه برابره کړه. دا هغه څه وو چې افغانستان کې هېڅکله نه وو پلي شوي. زموږ هېواد له اقتصادي اړخه هم یو کم ځواکه هېواد و. موږ خصوصي صنعت هم نه لاره چې اوس مو د سوسیالېستي نظام پر بنسټ اړولی وای. د ځمکو د اصلاحاتو لړۍ هم له خنډونو سره مخ شوه. د دې پر ځای چې موږ دولتي ځمکې وېشلې وای او مالیات مو ترې اخیستي وای، د خلکو ابادې ځمکې مو په زور ترې اخیستې. دا د افغاني ارزښتونو خلاف کار و، ان هغو خلکو هم چې موږ به د نورو ځمکې ور وېشتلې، د ملحدینو په سترګه راته کتل.))

کارګر زیاتوي: ((موږ له دیني ملایانو سره مخالفت کاوه، هغوی زموږ په ټولنه کې خورا ژورې ریښې لرلې، هغوی ته به مو د بورژوازۍ د استازو په نوم جزاوې ورکولې. له دې څرګنده شوه چې موږ د خلکو په منځ کې ځای نه لاره او نه توانېدو خپل پروګرامونه پلي کړو. تمه مو لرله چې ټیټ پاړکی خلک به د ځمکو له بیا وېش سره زموږ د سېسټم ملاتړ وکړي، خو هغوی تر بل هر چا لومړی زموږ د چارو مخالفت وکړ. پایله دا چې موږ یو ځل بیا د شرق او غرب تر منځ سړه جګړه تازه کړه. په نړۍ کې چې هر چا له شوروي اتحاد سره ستونزه لرله، زموږ مخالفت یې پیل کړ.

پاکستان هم زموږ پر ضد د هڅو ملاتړ وکړ او ډېره ګټه یې ترې واخیسته. پاکستان په سپین سترګۍ سره زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوله او غوښتل یې هرڅه په خپله خوښه سمبال کړي. د دې پر ځای چې د خلکو ملاتړ مو خپل کړی وای، خلقیانو او پرچمیانو له ډېرو ګواښوونکو لارو کار واخیست. هغوی زورواکي کوله، هېڅ مخالف یې پر وړاندې غږ نه شو پورته کوی. د دواړو ډلو مشرانو به له یو بل سره مخالفت کاوه، پر دې سربېره چې د سیاسي موخو سرچینه یې له یوه ځایه خړوبېده. مسکو پر دې مخالفتونو خوشالېده او د لا پراخېدو لپاره به یې پر دې اور تېل اچول. په افغانستان کې د روسانو موجودیت ته ډېرو افغانانو او بهرنیانو د اشغال په سترګه کتل.))

**دوام لري...**

# دوست شینواري

ادبي وېبلاګ



اروابناد دوست محمد شینواری د سید عمر زوی په ۱۳۱۴ لمریز کال کې د شینوارو په بر کلي نومي ځای کې زیږېدلی دی. مور او پلار یې ورباندې دوست محمد نوم اېښی و، خو په کور کلي کې د خان په نامه مشهور و. نوموړي په پښتو ادبیاتو کې د پام وړ کارونه کړي دي. هغه په فولکلور، د پښتو ژبې څېړنو او ادبي تیورۍ کې ګټور او مهم اثار لیکلي دي.

د اروابناد دوست شینواري په زده کړه کې د ده پلار پوره اغېز درلود. دی یې د علم او فن زده کړې ته هڅاوه. که څه هم د ده پلار یو نالوستی کس و، خو له علم او تعلیم سره یې ډېره مینه درلوده. پلار یې یو ولسي شاعر و. ده هڅه کوله چې ماشومان یې د تعلیم او علم په ګاڼه سمبال شي او تل یې دوی ته د زده کړو او تعلیم زمینه برابروله.

دوست محمد شینواري د لومړنیو زده کړو دوره له اته کلنۍ پیل کړې ده. ده د خپل وخت مروج علوم د پېښور په کوهاټ مدرسه کې لوستي دي او په ۱۳۲٦لمریز کال کې بېرته وطن ته راستون شوی او د تګاب په حمیده مدرسه کې شامل شو. دوه کاله وروسته د کابل په دارالعلوم کې شامل شو. په ۱۳۳۲ لمریز کال له یاد دارالعلوم په عالي درجه بریالی او فارغ شو. بیا د همدغه کال په کب میاشت کې د انیس په ورځپاڼه کې مقرر شو او بیا د ورځپاڼې د اداري له خوا په ۱۳۴۲لمریز کال کې تحصیلي بورس ته معرفي شو. په تیزبودک کې تر یوه کال زده کړې وروسته بیا د استوف په پوهنتون کې شامل شو او په ۱۳۴۸ لمریز کال کې یې په فلالوژۍ کې ماسټري واخیسته.

د ۱۳۴۸لمریز کال د اسد په لومړۍ نېټه د پښتو ټولنې علمي غړی شو. هلته یې د پام وړ فعالیتونه وکړل او په څېړنو او مطالعاتو یې لاس پورې کړ. په ۱۳۵۰لمریز کال کې د ثور په لومړۍ نېټه د پښتو ټولنې د لغاتو مدیر وټاکل شو.

په ۱۳۵۳لمریز کال کې د میزان په لومړۍ نېټه د ادب او فلکلور د څانګې علمي غړی وټاکل شو. په ۱۳۵۵ لمریز کال کې د دې څانګې لوی مدیر شو. په ۱۳۵۷لمریز کال کې د پښتو ټولنې د ریاست مرستیال شو. په ۱۳۵۸ لمریز کال کې د دولت د ریاست د نشراتو د دفتر رییس وټاکل شو. په ۱۳۵۹ لمریز کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو غړی شو . په ۱۳٦۱ لمریز کال کې د څیړنو نړیوال مرکز رییس شو او د ژوند تر پایه د همدې ځای علمي غړی پاتې شو.

ښاغلي دوست شینواري په نظم او نثر دواړو کې قلم چلولی دی. د دوست شینواري په نثر کې ملي موضوعات لومړی مقام لري. هغوی چې د ادبیاتو په اړه مطالعه لري، پوهېږي چې تر خپلواکۍ وروسته پښتو نثر ښه وده کړې ده. په همدې وخت کې پښتانه خپل ملي ژبې ته متوجه شوي دي. اروابناد دوست شینواری هم یو له هغو لیکوالانو دی چې پښتو نثر ته یې کار کړی دی او مهم ملي موضوعاتو یې د قلم په ژبه بیان کړي دي.

د دوست شینواري نثرونه ساده دي. روانه ژبه لري. د نثرونو جملې یې لنډې دي.

مفهوم په ښه توګه لېږدوي. لوستونکی په اسانۍ ترې مطلب اخیستلی شي. د نوموړي په ځینو شعرونو کې د عربي ژبې اغېز هم ښکاري. خو په نثري برخه کې یې بیا دغه اغېز یو څه کمرنګه دی. دا چې دوست شینواری له عربي دارالعلوم څخه فارغ شوی او نورې دیني زده کړې یې هم کړې دي، خو تر خپلې وسې پورې یې د عربي ژبې اغېز پر خپلو اثارو کم کړی دی.

دوست شینواري فولکلوریک مسایل څېړلي او لنډې کیسې یې هم لیکلې دي. دوست شینواری په دغه لار کې یو له سر لارو لیکوالانو دی چې د قدر وړ خدمتونه یې کړي دي او د اوسنۍ لنډې کیسې په معیارونو پوره کیسې یې لیکلې دي. د اروابناد شینواري (بوړنوونکې شپه) د لنډو کیسو ټولګه کې داسې کیسې راغلې دي چې د معیاري کیسو ټول شرایط پکې مراعات شوي دي.

د اروابناد دوست؛ کمال او هنر په دې کې و چې په لیکنه کې یې تل توازن په پام کې نیوه. په دې مانا چې لیکنې یې نه په ډېره هنري ژبه چې مصنوعي ژبه خپله کړي او نه یې د عادي خبرو په څېر لیکلې چې خپل هنریت له لاسه ورکړي. په دې توګه نو ویلی شو چې اروابناد شینواري د هنر او حقیقي ژوند تر منځ توازن ته پام کاوه. «سلګۍ» د دوست شینواري د خوږې او روانې ژبې بېلګه ده چې په ښکلو او رنګینو الفاظو پکې د پښتو او پښتنې ټولنې دودونه منعکس شوي دي.

د دوست شینواري د لیکوالۍ تر څنګ، شعري ژبه هم ښکلې او رنګینه ده. په دغه برخه کې د ښه استعداد خاوند و. دی یو پیاوړی او تکړه شاعر و چې د شعر ژبه یې له سوز او درد سره ملګرې کړې وه. ده تر ډېره په اشعارو کې د پښتون قوم په درد ژړلي او په دغه ویر ماتم یې ډېر اشعار ویلي چې دلته یې د شعر یوه نمونه راوړو:

زما غوښتنه

نه وایم دا چې هاغه راکړه دانه غواړمه
هر څه چې ته راکوې نور له تانه غواړمه
له یو زړه او بینا سترګو نور څه مه راکوه
همدا مې بس دي زه دولت او دنیا نه غواړمه
ښه شوه چې پوه په ښه او بد دې کړم ملا دی ګرم
خو درنه وړی ترې خوی د ملا نه غواړمه
لوړې او تندې قبلوم که مخمصی وی خو هم
د بل د درد د درېدلو فتوا نه غواړمه

دوست شینواري د نظم او نثر تر څنګ ګرامري او ژبپوهنیزې لیکنې هم کړې دي، چې (زړه پانګه) یې د ګرامر یوه ښه بېلګه ده. سر محقق دوست شینواری د معاصرو ادبیاتو یو فرهنګي شخصیت و چې د خپل باثمره ژوند په اوږدو کې یې موږ ته ډېر آثار په میراث پرې اېښي دي. هغه تر ډېره په ژبه او ادبیاتو کې لیکنې کولې، خو د دې تر څنګ یې په نورو برخو کې هم لیکل کړي دي. د افغانستان پر ژبو او توکمونو یې کتاب لیکلی دی. د پښتنو د تاریخ په اړه یې لیکل کړي دي او په دې برخه کې یې له مهمو اثارو استفاده کړې ده.

د ده ځینو اثارو ته لنډه کتنه کوو:

د افغانستان ژبې او توکمونه: دغه اثر د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۵۴ لمریز کال کې په ۴۷۲ مخونو کې چاپ شوی دی. دوست شینواري د خپلې مورنۍ ژبې تر څنګ په دری، اردو، انګلیسي، روسي او عربي ژبه هم پوهیده. د دې تر څنګ، له لرغونو ژبو سره هم اشنا و. نو په دغه کتاب کې یې د افغانستان په بېلابېلو ژبو کې لکه ساکي، یفتلي، پامیري، داردي، بلوچي او د افغانستان پر داسې نورو ژبو بحث کړی دی. نوموړي لرغونې اریایي ژبې لکه اوستا، خوارزمي، سوغدي، یوغني پارتیاني او زړه پاړسي له یو بل سره پرتله کړې دي.

د پښتو ادب لارې: دغه اثر د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۵٦لمریز کال کې په ۱۵۲ مخونو کې چاپ شوی. په دې کې د خلکو دودونه، رواجونه، خرافات، کیسې، متلونه او له اریایي زماني څخه د ده تر وخته پورې د افغانستان د خلکو ټول فولکلوریک مسایل راغلي دي.

زړه پانګه: دغه کتاب په ۱۳٦۳ لمریز کال کې په ۷۰۷ مخونو کې د علومو اکادمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز له خوا چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د کلاسیکې او لرغونې دورې لغات چې په ځینو ځایونو کې یو ډول او په ځینو ځایونو کې بل ډول راغلي، جمعه شوي دي.

د ادب تیورۍ اساسونه: په دغه اثر کې ادبي اثار، هنري مکتبونه، ادبي ژانرونه، ادبي سبکونه، ادبي ولسي ژبه، ویرنه، قصیدې، ادبي ټوټې او ورته نور مهم ادبي نظریات راټول شوي دي.

پښتانه څوک دي؟ : دا کتاب په ۷۳ مخونو کې چاپ شوی چې په هغه کې د پښتنو د تاریخ او په دې اړه مهم نظریات راټول شوي دي.

ښاغلي دوست شینواري د دې کتابونو تر څنګ، هغه لسګونه مقالې هم د پښتو ژبې او ادبیاتو په اړه لیکلې، ژباړلې او خپرې کړې دي. د ده ژباړه هم لکه نثر روانه ده او لوستونکی په وضاحت مطلب ترې اخیستلی شي. دوست شینواري هڅه کړې څو هغه مقالې او اثار را وژباړي چې په پښتو ژبه کې ورته اړتیا وه.

دوست محمد شینواری د هېواد پېژندل شوی مفکر، دیني عالم او پر ادبیاتو پوه کس دی. نوموړی د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی، په ۱۳۷۲لمریز کال کې د وري په ۱۱مه نېټه په ۵۸ کلنۍ کې د زړه د ناروغۍ له امله په روغتون کې وفات شو. د مرحوم جنازه د حمل یا وري په ۱۲مه نېټه د ډېرو علمي شخصیتونو او د مرحوم د خپلوانو او دوستانو په حضور کې د کابل ښار د سیمنټ خانې په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

د ښاغلي شینواري په اړه د پښتو ژبې او ادب لیکوالان او څېړونکي بېل نظریات لري. سر محقق عبدالله بختاني د ده په اړه ویلي، دوست شینواري نه یوازې دا چې مهم څېړنیز کارونه کړي دي، بلکې په پښتو ژبه او ادب کې یې خوندور نثري او شعري اثار پنځولي دي. هغه یو خوږ ژبی شاعر و چې شعرونه یې د هېواد د هغه وخت په مطبوعاتو کې خپرېدل. د بختاني په خبره، که کوم څوک له مطبوعاتو د ده اثار راټول کړي، نو غټه مجموعه به ترې جوړه شي.

استاد عبدالرووف بینوا بیا ویلي، چې دوست شینواري په پښتو ژبه کې خواږه نثرونه او روان شعرونه لیکلي. د ده په خبره، د شینواري په شعر کې خوند، قوت او لطافت هم شته. استاد بینوا وایي، د دوست شینواري شعر او شاعري په دارالعلوم کې له شاملېدو سره سمه پیل شوې ده، خو نثر یې هغه وخت پیل کړ چې په انیس ورځپاڼه کې مقرر شو. په پای کې ویلی شو چې ښاغلي دوست شینواري په پښتو ادب کې د پام وړ کارونه کړي دي. د افغانستان ژبې او توکمونه یې داسې اثر دی چې نن هم د علم او ادب د مینه والو په بېلو علمي کړیو کې د استفادې وړ دی. د ده بریا په دې کې وه چې پر ډېرو ژبو یې بلدیت درلود. ده ښه لیکل کول او په بېلو ژبو ورته د تحقیق زمینه برابره وه. له همدې امله یې ژباړې او لیکنې د حساب وړ دي.

همیانی

# څلور هغه شیان چې په ژوند کې له پیسو ګټلو زیات ارزښت لري

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د نن ورځې له سیالیو ډکې نړۍ، موږ ډېری د کسب و کار اوپه بدل کې یې د پیسو ګټلو ته سوق کړی یو. خو د پیسو ګټلو په نسبت ځینې نور داسې مهم شیان هم شته، چې که ورته پام ونه کړو، هغه پیسې چې موږ یې ګټو، د هغو ارزښت هم له منځه وړي. موږ په همدې مقاله کې د بدروس کویلیان له خولې درته هغه څلور شیان ښیو، چې د پیسو په نسبت زیات ارزښت لري.

**۱ـ باور**

پر ځان، موخو او هیلو ته پر رسېدو باور، انسان ته د ژوند کولو جرئت ورکوي. که تاسې پر خپل ځان باور ونه لرئ، هغه هڅې او کوښښونه چې تاسې یې په خپله دنده او کار کې کوئ، کومه ښه پایله به ورنه کړي. وېره کولای شي هغه کسب و کار یا دنده چې ستاسې په ژوند کې حیاتي تغیرات راوستلای شي، له منځه یوسي او یا یې هم تر ډېر نابود حده ورسوي. ما دا موضوع ډېره ښه درک کړې ده. کله چې هغه کسان چې تاسې د بل هرچا په پرتله پرې ډېر باور کوئ، ستاسې د نابودۍ کوښښ کوي، هغه وخت به ستاسې پر ځان باور ساتل ډېر سخت نه وي.

خو هغه وخت چې د یوې دندې او کار کولو په اړه خپله باور له لاسه ورکړئ او داسې ووایئ چې ډېرې موخې مو ټاکلې وې یا یو بل څوک شته چې ستاسې په پرتله دغه کار په ښه ډول سرته ورسوي، هغه ده چې خپله مو د خپل ځان په نابودۍ لاس پورې کړی دی. حتی دا هم ممکنه ده چې له دندې او کاره مو لاس واخلئ او د یو بل کس د ګټو لپاره پر کار لګیا شئ، د هغه کس لپاره چې پر ځان باور لري.

ایا دا مو خوښېږي چې تاسې مو کارونه په هغه ډول چې مو خوښېږي، سرته ورسوئ؟ باید پر خپل ځان او کار مو پوره پوره باور ولرئ، له دې هم وېره مه لرئ چې ممکن له سختو مسایلو سره به مخ شئ؛ خو له دې هر څه سره سره بیا هم تاسې پر خپل ځان او کار باور ولرئ او په ټاکلې دنده او کار کې مو د لا اصلاحاتو د راوستو غوښتونکي شئ. تاسې پر همدې باور خپل کارونه مخکې یوسئ.

**۲- روغتیا**

ښه روغتیا تر پیسو په زرهاوو ځله غوره او ښه ده. که تاسې کارفرما یاستئ، ممکن ډېر لږ له نورو کسانو مرسته وغواړئ او ډېری وخت د خپل کار په اړه فکر کوئ. که کومه ستونزه پېښه شي، مسوولیت یې ستاسې پر غاړه دی. کېدای شي دا موضوع یوڅه خطرناکه وي. دا باور تاسې ته وایي چې که تاسې هره ورځ کار ونه کړئ او پیسې ونه ګټئ، لرې نه ده چې همدا دنده او کار به مو له لاسه ورکړئ. پر خپلو کارکوونکو او همکارانو مو باور وکړئ، پرېږدئ چې هغوی خپل او تاسې هم خپل کارونه په ښه ډول سرته ورسوي. ډاډه اوسئ چې د دندې او کار لرل انسان ته توانایي ورکوي، ښه ده چې د نوو لارو چارو په لټه کې شئ، څو مو هغه وړتیاوې او توانایي نوره هم لوړه کړي. د خپل ټیم له غړو سره ډېر کار وکړئ او د ښې پایلې د لاسته راوړلو لپاره یو پلان جوړ کړئ.

په همدې حال کې خپلې روغتیا او وزن ته پوره پوره پام وکړئ. لوبغالو ته لاړ شئ او د خپلې خوښې وړ لوبې وکړئ. د یو ښه او فعال ذهن تر شا یو قوي او پیاوړی جسم وي. ښه ده چې دا خبره جدي ونیسئ. دا مهمه نه ده چې تاسې د پر یو مسلکي لوبغاړي یا ورزشکار بدل شئ. یوازې همدومره کافي ده چې خپلې موخې منظمې کړئ، هغه ته ورسېږئ او د نوو موخو د لاسته راوړلو په لټه کې شئ. همدا کار د دې سبب کېږي چې تاسې خپل کار ته ښه پام وکړئ او ورځې تر بلې پرمختګ وکړئ.



ایا ښه احساس نه لرئ؟ جرئت وکړئ او په دې اړه له مسلکي کسانو سلا مشوره وغواړئ. یو ښه ځای او موقف ته ستاسې د پوزیشن رسېدل، حتمي له تاسې یوه ښه نسخه غواړي. دا نسخه ستاسې خپلې روغتیا ته پام کول دي، په ښې روغتیا سره تاسې کولای شئ ښه فکر وکړئ، ښه پرېکړه وکړئ اوخپل کاري ټیم بریا ته ورسوئ.

**۳- تجربې**

په دې کې هېڅ شک نشته چې موږ په دې دنیا کې یو وار د ژوند کولو چانس لرو. هره ورځ کارځای ته تلل او هر ساعت کار او پیسې ګټل په ژوند کې ډېر حیاتي نقش نه لري، مانا دا چې تاسې نه باید د پیسو ګټلو په خاطر د ژوند ځینې حیاتي ارزښتونه چې واقعاً او رښتیا ژوند ته د اصلي ژوند مانا وربښي، له پامه وغورځوئ.

تل اماده او تیار اوسئ، کله چې فرصت درته برابرېدو، سفر وکړئ. په هغو تفریحي برنامو کې چې ستاسې د اوسېدو ځای شاوخوا جوړېږي، برخه واخلئ. کېدای شي ستاسې بانکي حساب د ډېرو خلکو لپاره حیرانوونکی وي؛ خو هغه تجربې چې تاسې یې له ژوند څخه لرئ، خلکو ته تر بانکي حساب ډېرې په زړه پورې او خوږې دي. پیسې هېڅ وخت نه شي کولای تاسې دې ځای ته ورسوي.

تجربې د ژوند اجره(مزد) بلل کېږي. دا تجربې تاسې ته تر ټولو ښه درسونه درکوي او د نړۍ په اړه ستاسې فکر ته بدلون ورکوي. د سختو کاري مسایلو د حل لپاره هڅې، تاسې ته ښې تجربې دي.

**۴- کورنۍ**

ښه کورنۍ تر پیسو په زرهاوو ځله ښه ده. تاسې هر یو غواړئ چې د خپلو اولادونو لپاره ستاسې د ماشوموالي په نسبت ښه ژوند برابر کړئ. کله چې تاسې د پیسو ګټلو لپاره له کورنۍ لرې مسافر وئ، ممکن ډېرې پیسې لاسته راوړئ او په معنوي لحاظ د ځان لپاره ډېر څه وګټئ. ځینې کسان داسې فکر کوي چې د زیاتو پیسو په ګټلو او د ښو امکاناتو په برابرولو سره کولای شي خپله کورنۍ خوشاله وساتي، خو هغه څه چې تر دې هرڅه زیات ارزښت لري، هغه له خپلې کورنۍ سره نږدې اوسېدل دي. تر وسه وسه کوښښ وکړئ چې له خپلې کورنۍ څخه د ډېر وخت لپاره لرې پاتې نه شئ، که د پیسو ګټلو او کاروبار کولو لپاره په بل ځای کې مسافر هم وئ، بیا هم کوښښ وکړئ چې په لنډ لنډ وخت کې خپل کور ته راشئ او یو څه وخت له هغوی سره نږدې تېر کړئ.

کله چې له کارځای څخه ماښام ستاسې کورنۍ ستاسې د راتګ انتظار کوي، پوه شئ چې تاسې د هغوی پاچا یاستئ. کوښښ وکړئ چې د خپل کاروبار، زده کړو، دندې او نورو مسوولیتونو تر څنګ، خپلې کورنۍ ته هم وخت ورکړئ. له هغوی سره یوځای په چکر لاړ شئ، د هغوی د خوښې وړ خوراک برابر کړئ او ان په فردي ډول د کورنۍ د هر یوه غړي غوښتنې واورئ.

که تاسې ښې ډېرې پیسې ولرئ، خو نه مو پر ځان باور وي، نه ښه روغتیا ولرئ، نه له ژونده ښې تجربې ولرئ او نه ښه کورنۍ ولرئ؛ باور وکړئ هېڅ یاستئ، ستاسې ژوند هېڅ مانا نه لري او نه هم خوند ترې اخیستی شئ. خو که دا هرڅه ولرئ او بیا هم پیسې ونه لرئ، ستاسې ژوند د نړۍ تر اتیا سلنه خلکو ښه دی.

## سرچینې: په کابل کې د اندونیزیا په مرسته جوړ شوی کلینیک د فساد له امله نه دی فعال شوی

عامې روغتیا وزارت ویلي، د اندونیزیا په مرسته په کابل کې جوړ شوي کلینیک ته پېرل شوي توکي بې کیفیته دي، خو قراردادي شرکت بیا ویلي چې توکي یې ځکه بې کیفیته بلل کېږي چې رشوت یې نه دی ورکړی.

د اندونیزیا په مرسته د کابل ښار په احمدشاه بابا مېنه کې یو کمپلېکس جوړ شوی دی. که څه هم د دغه کمپلېکس اړوند اسلامي مرکز کار په ۱۳۹٦ لمریز کال کې بشپړ شوی او پر کار یې پیل کړی، خو د ۲۳ بسترونو لرونکی کلینیک چې د ۱۳۹۸ لمریز کال د وږي میاشتې په وروستیو کې جوړ شوی، تر اوسه یې کار نه دی پیل کړی.

ځینو سرچینو پژواک ته ویلي، د کلینیک طبي وسایلو پر سر د عامې روغتیا وزارت، قراردادي شرکت او په کابل کې د اندونیزیا سفارت تر منځ د را ولاړې شوې لانجې له امله دغه کلینیک فعالیت نه دی پیل کړی.

عامې روغتیا وزارت ویلي چې د یاد کلینیک د ودانۍ جوړولو او طبي وسایلو برابرولو چارې د «ضیا ایوبي» ودانیزو چارو شرکت په کابل کې د اندونیزیا له سفارت سره د شوي تړون له مخې تر سره کړې دي.



خو د دغه وزارت د مالي او اداري چارو مرستیالې مموسۍ زېور پژواک ته ویلي: «د قراردادي شرکت له خوا باید د ۴۷۰ زرو ډالرو په قیمت با کیفیته وسایل راوړل شوي وای، خو دغه شرکت ټول بې کیفیته طبي وسایل په ارزانه بیه راوړي دي».

هغې زیاته کړې چې د عامې روغتیا وزارت د یاد شرکت ته د طبي وسایلو یو تایید شوی نوملړ ورکړی و، چې له مخې یې باید د یاد کلینیک لپاره اړین طبي وسایل وپېري، خو پېرل شوي توکي بې کیفیته دي.

زېور زیاته کړې چې عامې روغتیا وزارت دغه توکي رد کړي، ځکه چې د تړون له شرایطو سره برابر نه وو.

هغې ویلي چې د دغه وزارت چارواکو څو ځلې په کابل کې د اندونیزیا له سفیر او د هغه له مرستیال سره لیدلي او ورته ویلي یې دي چې هرکله شرکت د تړون مطابق وسایل وپېري، وزارت به یې تایید کړي.

د زېور په خبره، د دې لپاره چې کلینیک پر کار پیل وکړي، وزارت پټېیلې ده چې خپل طبي وسایل پکې نصب کړي او کله چې شرکت له تړون سره سم طبي وسایل وپېرل، وزارت به له هغو وسایلو په نورو برخو کې کار واخلي.

په ورته وخت کې یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته ویلي، د عامې روغتیا وزارت د روان کال په وږي میاشت کې یوه تخنیکي ډله وګومارله، څو کلینیک ته پېرل شوي طبي وسایل له تړون سره سم و ارزوي.

سرچینې زیاته کړې: «دغه ټیم د خپلې ارزونې په پای کې د طبي وسایلو قراردادي ته ویلي وو چې موږ ته ۵۰ زره امریکایي ډالر راکړه، چې راوړي مالونه دي درته صحت اجرا کړو، که نه نو پېرلي وسایل دې بدل دي او نه یې اجرا کوو».

د سرچینې په خبره، کله چې قراردادي شرکت د عامې روغتیا وزارت له ټاکل شوي ټیم سره د ۵۰ زرو ډالرو خبره ونه منله، د اندونیزیا سفارت ته یې وویل چې ټول برابر کړي طبي وسایل یې بې کیفیته دي، بېرته یې دې انتقال کړي او د روغتیا وزارت په خپله دغه کلینیک ته د نړۍ تر ټولو عصري وسایل اخلي.

اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۹۰ |
| € | ۸٦,٦۰ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۱ |

**پروازونه**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

**بیړنۍ شمیرې**

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0780 600 400 , 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر درېیمه | ٤۷۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۸ | ۲۲ | ۱۹ |
| ۰ | ٤ | ۳ | ۳ | ۷ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱٤ | لمر ختل ۰٦:٤۲ | ماسپښین ۱۱:٤۳ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤۳ | ماخوستن ۰٦:۱۲

## نړۍ



سپینه مانۍ: ولسمشر ټرمپ د استازو جرګې د سبا ورځې په غونډې کې برخه نه اخلي

۳

## ملګري ملتونه: د طبیعت پر ضد روانه جګړه دې ودرول شي



د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش د اسپانیا په مادرېد ښار کې د اقلیمي بدلون په اړه جوړې شوې غونډې ته ویلي، چې د طبیعت پر ضد روانه جګړه باید ودرول شي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د اقلیمي بدلون په اړه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د اعتراضونو څپې روانې دي.

ګوترېش په نړۍ کې د اقلیمي بدلونونو په تړاو ګواښ کړی که د نړۍ هېوادونه سره یوځای د اقلیمي بدلون د مخنیوي لپاره مبارزه ونه کړي، دغه ننګونه به په لنډه موده کې حل نه شي.

هغه زیاته کړې: «اقلیمي بدلون یوه اوږدمهاله ننګونه نه ده. موږ اوس له نړیوالو سره یوځای د اقلیمي بدلون له کړکېچ سره د مبارزې لپاره ولاړ یو».

هغه دغه راز ویلي چې له دې پدیدې سره د مبارزې لپاره د نړیوالو هڅې بسنه نه کوي.

ګوترېش ویلي: «موخې ته د رسېدو لپاره تر اوسه زموږ هڅې بسنه نه کوي. پر هغو ژمنو چې په پاریس کې پرې هوکړه وشوه، لا یې د تودوخې درجه زیاته کړې ده».

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو مشرانو، د اسپانیا په مادرېد ښار کې د هوا د ککړتیا د کموالي او د ځمکې د تودوخې په هکله بحث وکړ.

د یادونې ده چې د موټرو او کارخونو له امله ګل خانه یي ګازونه د ځمکې د ګرمېدو او د هوا ککړتیا اصلي لامل بلل کېږي.

## د روسیې په ختیځ کې په یوه ترافیکي پېښه کې ۴۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د روسیې د ختیځ په یوه لرې پرته سیمه کې په ترافیکي پېښه کې د یوه بس ۱۹ سپرلۍ وژل شوې او ۲۱ نورې ټپیانې دي.

سیمه ییزو چارواکو ویلي چې دا پېښه په زابایکالسک سیمه کې هغه مهال شوې چې موټر چلوونکي د ټایر له چاودلو وروسته د بس کنټرول له لاسه ورکړ او د یوه پله له پاسه لاندې پر کنګل وهلي کوینګا سیند راپرېوت.



د دغه هېواد یوه سیمه ییز چارواکي اندري ګورولیف ویلي چې په دې پېښه کې ۱۹ کسان مړه شوي او ۲۱ نور ټپیان دي.

نوموړي زیاته کړې چې د پېښې د قربانیانو جسدونه سیمه ییز روغتون ته لېږدول شوي او د ۱٦ کسانو هویت هم تثبیت شوی دی، خو په ورته وخت کې د دغه هېواد روغتیایي چارواکو د ځینو ټپیانو حالت د اندېښنې وړ بللی دی. چارواکو ویلي چې دغه بس د موټر چلوونکي په ګډون، ټولې ۴۴ سپرلۍ درلودې، چې ډېره برخه یې وژل شوي او ټپیان شوي دي.

په ورته وخت کې د یادې سیمې پولیسو ویلي چې د پېښې د عواملو په اړه څېړنې پیل شوې او ډېر ژر به یې له رسنیو سره شریکې کړي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم په دې سیمه کې د ناسمې هوا او توپان له کبله خونړیو ترافیکي پېښو ډېرو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

## ریاست اراضی بلخ: فهرست غاصبین زمین دها جریب در این ولایت اعلام می شود



مسئولین شهرسازی و ریاست اراضی بلخ می گویند که بیشتر از صدهزار جریب زمین در این ولایت غصب شده است که به زودی فهرست نام غاصبین از طریق رسانه ها نشر خواهد شد.

شیرشاه هوتک رئیس اراضی، در جریان مصاحبه اختصاصی با پژواک گفته است که درحال حاضر، این ریاست مصروف آماه کردن لیست غاصبین است.

او افزوده است که در کل، بیشتر از ۱۸۰ جریب زمین در این ولایت غصب شده بود که با تلاشهای ریاست شهرسازی و اراضی، در حدود ۸۰ هزار جریب زمین از چنگ غاصبین پس گرفته شده است.

موصوف گفته است که بیشتر زمین در بلخ، در سالهای هفتاد غصب شده است، که حتا به یک تعداد آن اسناد جعلی هم آماده شده است.

به گفته هوتک در کل حکومت مرکزی و بطور خاص مقام ولایت بلخ، در بخش گرفتن زمین ها از دست غاصبین؛ اقدامات جدی می کنند که نمونه های آن یک مدت پیش با رسانه ها شریک شد.

موصوف افزوده است که در زمین گرفته شده از غاصبین؛ پروژه های دولتی را عملی می کنند و همین حال بر بالا بردن عواید تاثیر مثبت کرده است.


او همچنان علاوه کرد که وزارت شهرسازی و اراضی، تصمیم دارد در تمام کشور، لیست غاصبین زمین را آماده و رسانه‌یی کند.

رئیس ریاست اراضی بلخ افزوده است: «ما هم در بلخ با همکاری مقام ولایت و پولیس تلاش می کنیم، لیست کسانی را آماده کنیم که درغصب زمین های این ولایت دست دارند. لیست بعد از آماده شدن از طریق رسانه ها به نشر خواهد رسید».

موصوف درحالیکه دادن معلومات در این مورد را ضروری دانست؛ اما علاوه کرد که مردم در کتگوری های مختلف، در غصب زمین ها دست دارند.

## ژوند

## سګرېټ څکول د پوستکي ښکلا له منځه وړي




د سګرېټو له زیانونو خو هرو مرو خبر یاست، چې د انسان د روغتیا لپاره ښه نه دي. اوس تازه د انګلستان بریستول پوهنتون پوهانو د یوې نوې څېړنې له مخې څرګنده کړې، چې ډېر سګرېټ څکول کولای شي د مخ ښکلا له منځه یوسي او مخ ګونځې پیدا کړي. پوهانو زیاته کړې چې سګرېټ څکول یوازې د انسان داخلي بنه له منځه نه وړي، بلکې د بدن پر بهرنیو برخو لکه «مخ» او پر نور جلد هم ژور منفي اغېز کوي.

څېړنې ثابته کړې ده چې که څوک د اوږدې مودې لپاره سګرېټ وڅکوي، نو د خپل مخ جذابیت او ښکلا له لاسه ورکوي، مخ یې غونجېږي او له نورو روغتیایي ګواښونو سره مخ کېږي.

د څېړنې یوې مشرې ډاکټرې لوزي میلارد ویلي چې د دې څېړنې په واسطه کوښښ شوی، چې د سګرېټ څکولو منفي اړخونه وڅېړل شي. د نوموړې په خبره، «موږ ومونده چې سګرېټ څکول انسان په چټکۍ سره د زړښت لور ته بیايي». د سګرېټو زیان یوازې د پوستکي دښکلا له منځه تلل نه دي، بلکې سګرېټ د چاپېریال د ککړتیا لامل کېږي، د سږو، خولې، شونډو او ستوني سرطان رامنځ ته کوي او په کور کې یې څکول د ماشومانو د جدي ناروغیو لامل هم کېدلای شي.

## اولادونو ته مو وخت ورکړئ



څومره پر خپلو اولادونو ویاړې؟ ایا ستاسو اولادونه ستاسو لپاره لومړیتوب لري؟ زما اولادونه خو زما لپاره ویاړ او لومړیتوب دی. که زما اولادونه زما نشتون حس کړي، د سترګو په رپ کې خپل ټول کارونه پرېږدم، څو له دوی سره واوسم. ډېری لوی او شتمن کسان له ډېرو لرې ځایونو ټورنټو ته راځي، څو له ماسره ووینې، دوی ما ته وایي، چې هر ډول شتمني لرو، خو په حقیقت کې هېڅ هم نه لرو. دوی ځکه داسې وایي چې له خپلو ماشومانو سره یې د خپل ژوند لږې شېبې هم نه دي تېرې کړې، نو ځکه خو یې اصلي شتمني او خوښي له لاسه وتلې ده. پیسې غوره شتمني نه ده، په ریښتیا هم نه ده!

نن له هغو کسانو سره مینه وکړئ چې د زړه له تله مینه ورسره لرئ، د هغوی ستاینه وکړئ او هغه څه ورته ووایئ چې تر اوسه مو یې د ویلو جرئت نه دی کړی. هېڅکله به پر دوی باندې له ویاړ کولو څخه پښېمانه نه شئ، هېڅکله هم نه!

پیسې لویه شتمني نه ده.